# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسيس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۱۷۲ ګڼه / پنجشنبه ۱٤ شوال‌المکرم ۱٤٤٤ هـ.ق / ۱٤ ثور ۱٤۰۲ هـ.ش/ ۰٤ می ۲۰۲۳ میلادي




د ایران ځانګړی استازی:

## ملګري ملتونه باید د افغانستان په مسئله کې خپلواک وي

افغانستان لپاره د ایران ولسمشر ځانګړي استازي سفیر حسن کاظمي قمي ویلي، ملګري ملتونه باید د افغانستان په مسئله کې خپلواک وي.

قمي تېره ورځ د افغانستان په اړه د دوحې ناستې په څنډه کې له انتونیو ګوترېش سره په لیدنه کې ټینګار کړی چې یاد سازمان باید د افغانستان په مسئله کې... ۵مخ

د کانونو او پټرولیم وزارت:

## ټول عواید به پراختیایي او رغنیزو پروژو کې ولګول شي



د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست وایي، د هېواد د کانونو پیسې به په پراختیایي او رغنیزو پروژو باندې ولګوي.

نوموړی چې په یوه رسمي سفر کندهار ولایت ته تللی، د دې ولایت د کانونو او پټرولیم وزارت د کار کوونکو او د کانونو د استخراجي شرکتونو له استازو سره لیدلي او د ستونزو د حل لپاره یې لار ښوونې ورته کړې دي. هغه ویلي، ۵مخ

## انهدام صدها جریب مزارع کوکنار



شریعت: وزارت امور داخله از محو صدها جریب کشت کوکنار در شماری از ولایات کشور خبر می‌دهد.

این وزارت روز گذشته با نشر خبرنامه‌یی گفت: پولیس مبارزه با مواد مخدر وزارت... ص۵

## جوزجان کې د ۱۱۰ ښوونځیو ودانۍ بیارغول کېږي



د جوزجان ولایت په مرکز او ولسوالیو کې د یونیسف موسسې په مالي ملاتړ د ۱۱۰ ښوونځیو ودانۍ بیا رغول کېږي.

د دغه ولایت د پوهنې رییس مولوي محمد طاهر جواد قوش تېپې او درزاب ولسوالیو ته د سفر پرمهال له بېلابېلو ښوونځیو څخه... ۵مخ

معاون وزارت دفاع ملی:

## در تعیینات از سمت پرستی و رفاقت خودداری شود



شریعت: معاون وزارت دفاع ملی در یک سیمینار تأکید نمود که در تعیینات باید از سمت پرستی و رفاقت جلوگیری به عمل آید.

وزارت دفاع ملی روز گذشته با نشر تویتی گفت: که ... ص۵

## د اوبو او انرژۍ وزارت له ډنمارکۍ موسسې سره تړون لاسلیک کړ



د افغانستان د اوبو او انرژۍ وزارت او د ډنمارک همکارۍ موسسې تر منځ د همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو.

د اوبو او برېښنا وزارت وایي، چې د دې وزارت د اوبو مرستیال د (DRC) ... ۵مخ

## برگشت ۳۴۳ مهاجر افغان از پاکستان



شریعت: بیش از ۳۰۰ مهاجر افغان از پاکستان به کشور برگشتند. وزارت امور مهاجرین و عودت‌کنندگان روز گذشته با نشر تویتی گفت که ۳۴۳ تن از مهاجرین افغان از کشور پاکستان از طریق مرز سپین بولدک ولایت کندهار به کشور برگشتند. این در حالیست که روز گذشته نیز این وزارت از بازگشت ۲۱۱ مهاجر افغان از مسیر سپین بولدک به کشور خبر داده بود. این وزارت دو روز قبل نیز اعلام کرده بود که ۱۲۰ پناهجوی افغان از طریق مرز سپین بولدک کندهار به کشور بازگشتند. این در حالی است که بر اساس آمارهای نشر شده، هنوز هم بیش از ٦ میلیون مهاجر افغان در کشورهای ایران و پاکستان پناهنده هستند.

## وزارت اطلاعات و فرهنگ از روز جهانی مطبوعات تجلیل کرد

وزارت اطلاعات و فرهنگ روز گذشته طی یک محفل با شکوه از سوم می؛ روز جهانی مطبوعات تجلیل به عمل آورد. در محفل که به این مناسبت دایر شده بود شماری از مسئولین نهادهای حکومتی، اصناف خبرنگاری و رسانه‌های خصوصی و دولتی و تعدادی از نویسنده‌ها اشتراک داشتند.

مولوی عتیق الله عزیزی معین فرهنگی وزارت اطلاعات و فرهنگ که در این مجلس سخن می‌گفت ابراز نمود که هیچکس انکار نمی‌کند که مطبوعات برای انعکاس حقایق و انکشاف جامعه تلاش می‌نمایند، این بهترین وظیفه است. خبرنگاران که برای وحدت جامعه از طریق رسانه خویش تلاش می‌کنند قابل ستایش اند.

وی افزود: ما در بیست سال گذشته با مشکلات زیادی مواجه بودیم، رسانه‌ها و ژورنالیستان در کنار مردم و امارت اسلامی برای رفع چالش‌ها و پایان اشغال سهم گرفتند.

بناءً ما از ژورنالیستان حمایت می‌کنیم و برای رفع مشکلات آنان تلاش خواهیم کرد.

آقای عزیزی از ایجاد کمیسیون تخطی رسانه‌یی خبر داده و گفت: این کمیسیون به زودی... ص۵

## پروان کې سلګونو کورنیو ته د ځښاک اوبه برابرېږي



د پروان د کلیو، بیارغونې او پراختیا ریاست مسوولین وایي، چې د دغه ولایت په مرکز چاریکارو او پنځو ولسوالیو کې د ۳۷ میلیونو... ۵مخ


ملګرو ملتونو ته د فاروق اعظم استولی لیک ۲مخ

واقعیت‌ها را نادیده نگیرید صفحه ۳

د قرآن او تکنالوژۍ له نظره په جرمي پېښو کې د درواغو مالومول ۳ مخ


## پکتیا کې رسنیزو سرغړونو ته د رسېدنې کمېټه جوړه شوه

د پکتیا د اطلاعاتو او کلتور ریاست مقام کې د دغه ریاست مسوولینو لخوا له نورو ادارو سره په ګډه د رسنیزو سرغړونو ته د رسېدنې کمېټه جوړه او خپله لومړنۍ ناسته یې تر سره کړه.

په دې غونډه کې د پکتیا د اطلاعاتو او کلتور رئیس قاضي ثواب جان اسلامیار د دغې کمېټې په جوړېدو خوښي څرګنده کړه او... ۵مخ

## وزارت صحت عامه مراکز درمانی جدید در نیمروز ایجاد می‌نماید



شریعت: وزارت صحت عامه برای بهبود روند عرضه‌ی خدمات صحی به باشندگان نیمروز تلاش می‌نماید.

مولوی محمد اسحاق صاحب زاده معین وزارت صحت عامه دیروز درسفرش به نیمروز گفت: با ساخت تأسیسات جدید صحی و نیز تجهیز مراکز درمانی نیمروز، می‌کوشند، عرضه‌ی خدمات به باشندگان نیمروز بهتر شود.

معین وزارت صحت عامه هنگام بررسی روند عرضه‌ی خدمات صحی به بیماران شفاخانه‌ی مرکزی نیمروز در شهر زرنج گفت: امارت اسلامی در پی بهتر سازی روند عرضه‌ی خدمات صحی به بیماران است. ص۵

سرمقاله

## بنسټیزې پروژې مو بسیاینه تضمینولی شي!

لـه نېکه مرغه ورمه ورځ د اقتصادي کمېسیون په یوه غونډه کې له مزار څخه تر هرات او بولدک د وسپنې پټلۍ غځولو پر یوه ستره پروژه د کار پیلولو فیصله وشوه. یاده پټلۍ چې ۱۴۷۰ کیلومتره اوږدوالی لري، ۹ ولایتونه، اووه بندرونه او له څلورو ګاونډیو هېوادونو سره زموږ اړیکې جوړوي، اټکل دی چې د د رېیو کلونو په موده کې به سرته ورسېږي.

د یادې پټلۍ بل ښه والی دادی چې تر ډېره له سختو غرنیو سیمو چپه او عموماً هوارو میداني علاقو کې تېرېږي، هغه څه چې د جوړېدو چارې اسانوي او لګښت یې کموي. دغه راز بل ارزښت یې دادی چې موږ د چابهار، بندرعباس، ګوادر او کراچۍ غوندې سمندري بندرونو سره نښلوي او په دې توګه زموږ په صادراتو، وارداتو او ټوله سوداګرۍ کې په زړه پورې آسانتیاوې او پرمختګونه منځ ته راتلای شي. دا چې زموږ هېواد په وچه کې راګیر او سمندر ته لاره نه لري ،نو لکه همدا اوس چې لیدل کېږي په صادراتو مو له خپله ځان ډېر لګښت کېږي چې طبعاً په نړیوالو بازارونو کې بیا هماغسې ګران نه شي پلورل کېدای او همدارنګه واردات هم ډېر ګران را ته پرېوځي چې زموږ بې وزله ملت یې له رانیولو عاجز وي، خو دغه ستونزه بیا د همدغه شان ښولارو سړکونو او پټلیو په واسطه تر ډېره هوارېدلی شي. په همدې توګه سمې لارې نه یوازې زموږ لپاره د کورني لېږد رالېږد په برخه کې ډېره آساني او ارزاني راولي، بلکې د نورو هېوادونو د ټرانزیټ راجلبولو له درکه هم ډېر عواید په لاس راکوي.

په هر صورت دا او دې ورته نورې بنسټیزې پروژې پرته له شکه هېواد آبادولی او پرځان بسیا کولی شي. د مثال په ډول که د زراعت برخه کې د نهرونو جوړولو او نویو کروندو آبادولو ته پاملرنه وشي، ډېر ژر به زموږ جنګ ځپلي ولس د خوراکي توکو له پلوه په کور د ننه له د غلو دانو له وارداتو بې غمه شي. ځکه زراعت زموږ یو داسې اقتصادي فعالیت دی چې تقریباً ۸۵ سلنه وګړي مو په کې بوخت دي. دغه راز معدنونه زموږ یوه بله مهمه شتمني ده چې که خپل کورني ځواکمن شرکتونو... ۵مخ

## غزني کې د یو شمېر پروژو چارې پیل شوې



د غزني په مرکز سربېره اندړو او واغظ ولسوالیو کې د نږدې ۴۰۰ زره امریکایي ډالرو په لګښت څو پروژې پلې کېږي، چې پرون په اندړو ولسوالۍ کې د ۱۸ زره مترمربع د استنادي دېوال، سربند او ګابین د بنسټ ډېږې ... ۵مخ

## ۲۶ کودک مبتلا به سوراخ قلب تداوی می‌شود

شریعت: هلال احمر افغانی، ۲٦ کودک دیگر را که مبتلا به بیماری سوراخ قلب اند را برای تداوی به سه شفاخانه در کابل معرفی نمود.

اداره هلال احمر افغانی دیروز به نشر خبرنامه‌یی گفت: این کودکان به منظور ... ص۵



# ملګرو ملتونو ته د فاروق اعظم استولی لیک

**فاروق اعظم یم**

سلامونه دوستانو! تېره یکشنبه، ۳۰ اپریل ۲۰۲۳م مې یو لیک په انګلیسي ژبه د ملګرو ملتونو د مؤسسې سرمنشي ښاغلي انتونیو ګوتیریش ته واستاوه. هغه مې په موجه دلائلو تشویق کړ چې په قریب الوقوع کنفرانس کې چې په دوحه کې د افغانستان په باره کې جوړېږي، نړیوال وهڅوي چې د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت وپېژني. که څه هم دا لیک مې تراستولو د مخه د امارت د مسؤلو چارواکو سره مطرح کړی دی، خو بیا مې هم د امارت په نمایندګۍ نه بلکې په مسائلو د یوه آګاه افغان په حیث ورته لیکلی دی. د لیک کاپي مې د امارت مسؤل چارواکو او د ملګروملتونو د مؤسسې د امنیت شورا ځینو غړو ته لېږلې ده. لیک سرمنشي ته رسېدلی او په کابل کې د ملګرو ملتونو د مؤسسې دفتر ته هدایت شوی، چې زما سره په دې مورد کې د مزید وضاحت لپاره وګوري. له هیئت سره مې ولیدل. مجلس ډېر ګټور و. د لیک پښتو ترجمه داسې ده:

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم. اما بعد

تعالوا الی کلمة سواء بیننا و بینکم. صدق الله ا لعظیم

جناب عالي د ملګرو ملتونو د مؤسسې محترم سرمنشي صاحب!

تر فائقه احتراماتو وروسته، زما چې د افغانستان له سیاست سره تر نیمې پېړۍ ډېر سروکار دی او اکثر په دننه کې اوسم، دادی ستاسو سره له کابل څخه د زړه خواله کوم. د افغانستان په سیاست کې زما تر نیمې پېړۍ اوږده تجربه د خطر زنګ وهي چې افغانستان نور مه تجرید کوئ. د نړیوالې ټولنې موجوده د تماس پالیسي نه یوازې مثمره نه ده، بلکې افغانان یې ډېر کړولي دي او د نړیوال امنیت خطرات په خېټه کې روزي. د افغانستان په اوسني تجرید سره، په حقیقت کې د ۱۹۹۶-۲۰۰۱م سهوې او ترخې تجربې بیا تکرارېږي. اوس وخت دی چې افغانان او نړیوال دواړه له تېرو ترخو تجربو پند واخلي او پخوانۍ سهوې تکرار نه کړي.

کله چې طالبانو په ۱۵ اګست ۲۰۲۱م کې د تېر حکومت تر سقوط وروسته د قدرت واکې په لاس کې ونیولې، نړیوالې ټولنې ته یې له همهغه اول ورځې د تفاهم لاس اوږد کړ. طالبانو په همهغه اول سر کې څو مهم کارونه وکړل چې له بده مرغه نړیوالو جدي ونه نیول. مثلا:

(۱) د کابل حکومت تر سقوط وروسته، امریکا د دوو اونیو په کمه موده کې د کابل له هوایي ډګره ۱۲۳۰۰۰ افغانان وایستل. طالبانو پر خپل غرور پښه کېښودله او له امریکا او ناټو سره یې د دغه عملیاتو په کامیابۍ کې مرسته وکړه.

(۲) عامه عفو: امارت د قدرت له لومړۍ ورځې خپل هغو ټولو دښمنانو ته عفو وکړه چې د امریکا د حضور په شل کلنه دوره کې یې پر طالبانو ظلمونه کړي وو؛ حتی هغه خلکو ته یې هم عفو وکړه او اوس پېره پرې کوي چا چې د سرو زرو مډال د هر هغه خارجي پر سینه ورټومبلی و، چې ډېر مجاهدین یې شهیدان او ډېر کورونه یې وران کړي وو. دا یو عظیم کار و چې د نړۍ تاریخ یې کم مثال لري.

۳ امارت د پخواني حکومت ټول مامورین په خپل حکومت کې له ځان سره ساتلي دي. په دغو کې داسې کسان ډېر دي چې پخوا له طالبانو سره په مستقیمه دښمنۍ کې ولاړ وو. دا یو بیساری تحمل او پراخه لمن ده چې امارت غواړي ټول افغانان بېله تبعیضه په غېږه کې ونیسي، پر زخمونو یې پټۍ کېږدي او له دې لارې ملي وحدت تقویه کړي.

۴ همه شمول حکومت: په تېر نظام کې شل کاله جنګ پر پښتنو تحمیل و. پښتنو په حکومت کې د خپل نفوس په تناسب ډېره کمه ونډه درلوده؛ د حکومت اکثریت کارکوونکي غیر پښتانه وو. د امارت په راتلو سره د تېر حکومت د سر خلک وتښتېدل او نور پاتې دي. امارت د پخواني حکومتي کارکوونکو په ساتلو سره وښودل چې اوسنی حکومت همه شمول دی.

۵ امارت د خپل تېر دور په خلاف دا وارې په اول سر کې نجونې مدرسو او ښځې کار ته پرې ایښې وې. ښځې په بهرنیو مؤسسو کې له کاره په دې نږدو وختو کې هغه وخت منع شوې چې امارت پوه شو نړیوال د امارت حسن نیت ته توجه نه کوي.

۶ امارت په داسې حال کې چې د هیواد مکمل کنترول یې په لاس کې دی، د ټولو نړیوالو تعاملاتو د سرته رسولو اهل دی او خپل مسؤلیتونه په ښه توګه ترسره کولای شي. اوس نړیواله ټولنه یو مسؤل او قابل اعتماد انډیوالي په افغانستان کې لري چې تېرې څلور لسیزې یې نه درلود.

۷ د فساد ډېر کمښت: تر ۱۵ اګست ۲۰۲۱م د مخه د افغانستان حکومت د دنیا فاسدترین و. نن فساد، که اخلاقي دی او که اداري، په افغانستان کې حد اقل دی. که دنیا له افغانانو سره مرسته وکړي، دغه مرستې اوس د پخوا په نسبت ډېر ښه مستحقو ته رسېږي او د حالاتو په مثبت تغییر کې به مؤثر واقع شي.

۸ امارت د مخدرو موادو تولید او تجارت بند کړ، کوم چې امریکا او ناټو په تېر شل کاله کې او ترهغه دمخه روسانو ونه کړای شو. په دغه لاره کې امارت مشکلات هم ګاللي دي او حتی د خپلو ملاترو سره یې برخوردونه پرې کړي دي. دا د طالبانو لخوا له نړیوالو سره د مرستې او همکارۍ لوی ثبوت دی، خو نړیوالو د امارت دغه مهم مثبت قدم ته پاملرنه ونه کړه.

۹ امارت د مخدرو موادو زرګونه معتادین چې اکثریت یې هزاره او تاجک دي او په ډېر غیرانساني حالت کې یې ژوند کاوه، راټول او تر تداوۍ لاندې ونیول. دغو بدمرغه انسانانو د ښار تر پلونو لاندې په کثافاتو کې ژوند کاوه او په بازارونو کې خیرن کالي او علیل صحت ګرځېدل. اوس هغوی ټول تر تداوۍ لاندې نیول شوي او آبرومند ژوند ته برابر کړای شوي دي. امارت توقع درلوده چې نړیواله ټولنه به د دغه بشري ناورین په قابو کولو کې چې له تېرحکومته ورپاتې دي، مرسته وکړي.

۱۰ له سوالګرو سره مرسته. په تېر حکومت کې چې بې دریغه نړیوال ملاتړ یې درلود، د فقیرانو او سوالګرو یو لښکر په هر ښار کې موجود و. پخوا د ښار د هر نانوایۍ مخته به په لسګونو ښځې، ماشومان په غېږ کې، د یوې ګولې خیرات په انتظار ټوله ورځ په یخ او ګرمۍ کې ناستې وې. امارت زرګونه سوالګر له ښارونو راټول کړل؛ مستحق یې تشخیص او د خپلې کمزورې بودجې باوجود یې ټولو ته پر کور معاش حواله کړ. نړیوالې ټولنې د دغه بشري ناورین په ختمولو کې له امارت سره مناسب چلند ونه ښود.

(۱۱) له داعش او نورو افراطي ډلو سره جنګ. امریکا او متحدینو یې بار بار تائید کړی، چې امارت د داعش او خوارجو سره په سخت جنګ کې ولاړ دي. امارت زموږ ګاونډیان او نړیوال مطمئن کړي چې له افغانستان څخه ګاونډیانو او نورې دنیا ته هېڅ ډول خطر نشته. خو نورو دا کار نه دی کړی؛ د امارت مخالفین یې ساتلي او د امارت ضد فعالیت ته یې تشویق کړي دي.

۱۲ افغانستان د سیمې د اتصال محور. تېر دوه سوه کاله افغانستان د لویو طاقتونو ترمنځ حائله نکته وه. اوس امارت کوښښ کوي چې افغانستان د سیمې او نړۍ د اتصال محور شي. د نړیوالو بندیزونو او نورو محدودیتونو سره سره، امارت کوښښ کوي چې افغانستان له سیمې او نړۍ سره د دوستۍ محل او د اتصال محور شي چې ګټه یې ځان، سیمې او نړیوالو، ټولو ته ورسېږي.

جناب عالي! نړیوالې ټولنې، له بده مرغه، د امارت دا دومره مثبتو اقداماتو او د نړیوالو سره د حسن تفاهم هڅو ته جدي توجه ونه کړه او د همکارۍ او باهمي تعاون هغه لاس چې امارت له لومړۍ ورځې نړیوالې ټولنې ته ور اوږد کړی و، ونه نیو. په نتیجه کې اوس د غرب او طالبانو ترمنځ د بې اعتمادۍ یوه فضاء رامنځته شوې، چې دوام یې مضر او رفع یې ضرور ده. زه کوښښ کوم د یو داسې چا په حیث چې په حالاتو آګاه یم د لارې په پیدا کېدو کې د ذیدخله اړخونو سره مرسته وکړم. غرب تور لګوي چې طالبانو په دوحه کې د خپلو وعدو خلاف کابل په زور ونیو. خو امارت دا نه مني او وایي چې د اشرف غني حکومت خپله له د ننه د امریکایانو په قوي نظامي حضور کې سقوط شو. غربیان همداسې ادعا کوي چې طالبان بشري حقوق نه مراعاتوي، خو امارت بیا وایي غرب نه په مذاکرات کې مخلص او نه په معاملات کې صادق دی؛ جنګ یې نه دی ختم کړی، بلکې د جنګ بڼه یې بدله کړې ده؛ امارت په رسمیت نه پېژندل یې بېلګه ده. امارت ادعا کوي چې:

- **جنګ تراوسه نه دی ختم.** د افغانستان فضا اوس هم د امریکا په کنترول کې ده. امریکایي ډرون د افغانستان پر فضا شپه او ورځ ګرځي، د امارت مشران تهدیدوي. دغه سبب دی چې د امارت ځوانانو لاتراوسه د آرام ساه نه ده اخیستې او د هرې ناګوارې واقعې لپاره په سنګر کې تیارسئ ناست دي.

- **زهرجن تبلیغات نه دي بند.** که تاسې د غربي نړۍ هره رسنۍ ولولئ، رادیو ته غوږ شئ او تلویزیون وګورئ، د طالبانو او امارت پرضد تبلیغات دي. غربي حکومتونه ټولو هغو رسنیو ته مالي مرستې ورکوي چې د امارت پرضد ناروا تبلیغات کوي. د ټولو تلاش دادی چې امارت د دنیاوالو په نظر په دروغو بدنام کړي. تبلیغاتي جنګ لا نه دی ختم.

- **د افغانستان په داخلي امورو کې مداخله:** همدا اوس زموږ د ځینو ګاونډیانو په شمول یو شمېر هېوادونه نه یوازې د امارت دښمنانو ته پناه ورکړې، بلکې هغوی ته یې د امارت پرضد د فعالیت اجازه هم ورکړې ده. د امارت دښمنان په دغو هیوادونه کې مجلسونه دائروي او دوی یې تمویلوي. تعجب دادی چې نړیواله ټولنه د امارت څخه غواړي چې د نورو هیوادونو په داخلي چارو کې مداخله ونه کړي، خو دوی خپله د افغانستان په داخلي امورو کې ښکاره مداخله کوي.

د مغزونو اغوا. د افغانستان سره د دښمنۍ یوه بله مستنده موضوع له افغانستان څخه د مغزونو او قوه کار ایستل دي. د تېر رژیم له سقوطه وروسته تر دوو اونیو په کمه موده کې امریکا او ملګرو یې له افغانستان څخه تقریباً ۱۲۳۰۰۰ افغانان په دغه تور وایستل او نور روان دي چې دغو کسانو د بهرنیانو سره کار کړی و او اوس یې امارت وژني. دا خومره ناروا ادعا وه او ده. امارت د هوایي میدان او د هغو کسانو امنیت نیولی و، کوم چې الوتکو ته تلل. همدا اوس په افغان حکومت کې زرګونه مامورین دي چې غرب ته یې د مهاجرت فورمې ډکې کړې دي او په دړواغو یې په کې لیکلي چې طالبان مو وژني؛ په داسې حال کې چې فعلاً له امارته معاش اخلي. امارت هغو کسانو ته لا څه نه وایي چې د هر هغه خارجي پر سینه یې د سرو زرو مډال ټومبلی و چې ډېر مجاهدین یې شهیدان کړي وو، نو دغه عادي کسانو ته به ولې څه وایي. امارت عفو ته متعهد دی، خو غرب د امارت دغه ټول د حسن نیت اقدامات بابېزه ګڼي.

- اقتصادي بندیزونه. د تېر رژیم د حکومت بودجه ۸۶٪ پر بهرنیو مرستو ولاړه وه چې اکثریت یې امریکا او ناټو تمویلول. په ۱۵ اګست ۲۰۲۱م کی د رژیم په سقوط سره امریکا او ملګرو یې یو دم هرڅه پر افغانانو بند کړل او نور ندیزونه یې هم پر ولګول. دغه حالت پر افغانانو دسته جمعي لوږه تحمیل کړه چې د ټولو نړیوالو قوانینو خلاف او یو بشري ناورین دی. امریکا په افغانستان کې د خپل ملاتړي فاسد حکومت د ناکامۍ سزا مظلومو افغانانو ته ورکړه. په افغانستان کې هغه شل کاله چې د ډالرو باران و، ۴۸٪ افغانانو دملل متحد د راپور له مخې په فقر کې ژوند کاوه. امریکایانو د خپلو بندیزونو په سبب دغه رقم ۹۷٪ ته لوړ کړ چې د بشر له حقوقو ښکاره سرغړونه ده. ډېر افغانان سوال کوي چې آیا غرب رشتیا په افغانستان کې سوله غواړي؟ زه تاسو جناب عالي او نړیوالو ته د خطر زنګ وهم چې که پر افغانانو همدا بندیزونه او اقتصادي فشار ادامه پیدا کړي، یقیناً داعش او نور افراطي ډلو ته به اسانه وي چې له افغانانو عسکر جذب کړي.

- مالي فشار. د امریکا لخوا د افغانستان بانک د سرمایې ضبطولو د هیواد ټول اقتصاد بد متاثر کړی دی. د امریکا جمهور رئیس جوبایډن په ۱۱ فبرورۍ ۲۰۲۲م فرمان صادر کړ چې د افغانستان ۷ بیلیون ډالره دې پر دوو برخو ووېشل شي، یوه برخه دې یې د هغو امریکایي عسکرو کورنیو ته ورکول شي چې افغانستان کې په جنګ کې وژل شوي وو او هم هغو کورنیو ته ورکول شي چې د سپتمبر ۱۱ په حادثه کې مړه شوي دي. یعنې نیمې پیسې باید امریکا کې پاتې شي. دا بیا بله خبره ده چې معلومه نه ده د سپتمبر حادثه چا وکړه او که هرچا وکړه، یو افغان په هغه کې شامل نه و. او بل دا چې متجاوز عسکر ته به د هغه چا پیسه د پاداش په ډول ورکول کېږي چې د خپل وطن دفاع یې کړې ده. د فرمان له مخې نوره نیمه پیسه به د غربي نړۍ د انجو ګانو له لارې په افغانستان کې مصرفېږي. یعنې د افغانانو پیسې به افغانانو ته د افغانانو په لاس نه، بلکې د هغه چا لخوا ورکول کېږي چې تراوسه یې لا جنګ نه دی ختم کړی. دا پیسې به یقیناً د بهرنیانو په لوړو معاشاتو او په غیر بشري فعالیتونو کې کارول کېږي.

- **نړیوال مهاجرت ته تشویقول:** پر افغانستان د اقتصادي بندیزونو د لګولو، پر افغانانو د ژوند د دائرې د تنګولو او زموږ د تعلیم یافته طبقې د ایستلو له لارې، غرب ته غیر حق مهاجرت او د مغزونو او قوه کار فرار تشویق کېږي. دا عمل په نړیواله سطحه د مهاجرت مشکل نور هم قصداً زیات او پېچلی کوي. دا یو بل بشري ناورین دی.

- **پانګونې ته یوه لویه ضربه:** اقتصادي بندیزونو او د افغانستان بانکي نظام فلجولو، ملي او بین المللي پانګوال سخت وېرولي دي. هغوی په افغانستان کې پانګونې ته زړه نه ښه کوي. سربېره پر دغه، لویې نړیوالې کمپنۍ په افغانستان کې د امریکا د بندیزونو له وېرې پانګونه نه شي کولای.

- د بې اعتمادۍ فضاء. د افغانستان پر فضا د ډرون ګرځېدل، د امارت پر ضد غربي میډیا کې ناروا تبلیغات، مختلف نړیوال بندیزونه، له تور لېسته د امارت د مشرانو د نومونو نه ایسته کېدل، ټول، خلکو ته د غرب لخوا داسې پرېښول دي چې ګویا افغانستان کې امن او استقرار نشته. دا د افغانستان په داخلي امورو کې مداخله او د دښمنۍ اعمال دي. دغو کړنو امارت یو ډول مجبور کړی، چې د تېرو شلو کلونو سیاسي او ټولنیز انکشاف ته په بله سترګه وګوري. د غرب سخت دریځۍ په امارت کې د سخت دریځو موقف تقویه کړی دی. ددغه کشمکش په نتیجه د عامو افغانانو سیاسي، اقتصادي او ټولنیز ژوند سخت له ګواښ سره مخ شوی دی.

- **افغانان په خپل تاریخ او ثقافت یو مغرور قوم دی او غواړي له نړیوالو سره په مساوي توګه د متقابل احترام پر بنیاد ژوند وکړي.** خو غرب په افغانستان کې د خپل ناکام حکومت سزا عامو افغانانو ته ورکوي، تحقیروي یې او فشارونه پرې واردوي. د ۲۰۲۱م اګست راهیسې امریکا د امارت سره په اخلاص خبرو ته نه ده کېناستلې. بلکې کوښښ یې کړی، چې د فشار له لارې هغه څه لاسته راوړي چې په نظامي لار یې ونکړای شو. د غرب او امارت تر منځ دغسې بې اعتمادي او تقابل باید ختم شي. د دغه حالت ادامه د دواړو خواو په ضرر ده.

- **نړیواله ټولنه باید د افغانستان حکومت په رسمیت وپېژني. په رسمیت پېژندلو سره به نور امارت سخت دریځو ته چې د جنګ لاحقه ده، ضرورت نه لري او هغه ځوانان به چې اوس د یو مبادا لپاره په سنګر کې ناست دي، د وطن د آبادۍ لپاره وګومارل شي.** دا وخت به افغانان د خپل سیاسي، اقتصادي او ټولنیز پرمختګ لپاره فکر او هڅې وکړي.

- **نړالو مرستو ته ضرورت.** امارت د افغانستان د سالم پرمختګ لپاره په حکومتولۍ، تعلیم، معادن، اقتصاد، زراعت، برېښنا او ډېرو نورو برخو کې د نړیوالو مرستو ته ضرورت لري. د دې پرځای چې افغانستان له نړیوالې ټولنې تجرید شي، یا په امارت کې د تغییراتو لپاره نړیوال زور او فشار استعمال کړي، زما مشوره داده چې له انعطافه کار واخیستل شي او اوسنی تقابل په مقابل احترام او همکارۍ بدل شي.

- په دوحه کې قریب الوقوع کنفرانس چې ستاسې جناب عالي په مشرۍ د افغانستان په باره کې دائرېږي، یو امتحان دی چې آیا نړیواله ټولنه د افغانستان د آرامۍ او د دغه جنګ ځپلي هیواد سره د سولې او دوامداره همکارۍ اراده لري؟ آیا دوی غواړي افغانستان کې امن وي؟ دا د نړیوالې ټولنې او امارت دننده ده چې د تفاهم او همکارۍ پر لور مثبت قدم واخلي.

د امارت په رسمیت پېژندلو سره د تهمتونو اوسنۍ کرغېړنه بازي چې یو بل ملامتوي، ختمېږي. که امارت په رسمیت وپېژندل شي، د نړیوال نظم او د ملګرو ملتونو د مؤسسې د چارټر په مراعات به مجبور وي او د امارت له خود سریو هغه ګیلې به ختمې شي چې اوس یې نړیوال اکثره د فشار په منظور راپورته کوي.

- که امارت د اسلامي همکارۍ د سازمان لخوا په رسمیت وپېژندل شي، د افغانستان اړیکې به د اسلامي نړۍ سره وده وکړي، اسلامي معلومات به سره تبادله شي او د اسلامي نړۍ د علماوو هغه سؤالونو ته به حل پیدا شي چې اوس یې له لرې مطرح کوي.

- ډپلوماتیک پرمختګ. افغانستان په نړۍ کې ۶۰ سفارتونه لري. که امارت په رسمیت وپېژندل شي او هر سفارت ته شل تنه دیپلوماتان واستول شي، دوه کاله وروسته به هغوی خارجي ژبې زده کړې وي، اولادونو به یې هلته تعلیم کړی وي او له دنیا سره به یې راشه درشه کتلې وي؛ له نورو به یې زده کړي او نورو ته به یې ور زده کړي وي. له دې لارې به ډېرو مثبتو تغییراتو ته لاره هواره شي.

- **په رسمیت پېژندل به داخلي او خارجي پانګونه تشویق کړي،** د افغانستان بانکي نظام او تجارت به سم او وده وکړي؛ لوږه به ورکه شي او افغانستان به د غذایي لحاظه خودکفاء شي. دا به د غرب خلاف د افغانانو غصه کمه کړي، او د داعش او نورو افراطي ډلو لپاره به سخته کړي چې له افغانانو به د خپلو اهدافو لپاره په اسانه جذب وکړي.

- **د افغانستان په مورد کې د نړیوالې ټولنې لخوا یوه د همکارۍ مناسبه پالیسي به په امارت کې د هغو کسانو لاس مضبوط کړي چې غواړي افغانستان پرمختګ وکړي.**

- د امارت په رسمیت پېژندلو سره به مثبتو تغییراتو ته نوره هم لاره هواره شي. په نړیواله سطحه په رسمیت پېژندل شوی امارت به د ملل متحد هغه تشویشونه رفع کړي چې د اقلیتونو او بشري حقوق په مورد کې یې لري.

- افغانستان غني هیواد دی. افغانستان د طبیعي زېرمو له پلوه ډېر غني دی. که افغانستان په رسمیت وپېژندل شي، زموږ ګاونډي او نړیوال پانګوال به د افغانستان د معادنو څخه د استفادې غټه موقع پیدا کړي.

- **افغانستان د اتصال محور.** که امارت په رسمیت وپېژندل شي، افغانستان به خپل جغرافیایي موقیت په خپل ګټې، د سیمې او نړۍ په ګټه وکاروي. افغانستان به د وصل د محور په توګه مرکزي ایشیا د جنوبي ایشیا او لیرې شرق به د غربي او جنوبي ایشیا سره ونښلوي. هغه هیواد چې دوه سوه کاله یې سیمه سره جلا کړې وه، اوس به د تجارت او راکړه ورکړه فعاله څلور لارې شي.

- **طالبان ملتپاله خلک دي چې غواړي د خپل ثقافت په تحفظ سره د خپل وطن دفاع وکړي او هغه آباد کړي.** چا ته یې د ضرر اراده نشته. د خپل مذهبي او ثقافي شرائطو په نظر کې نیولو سره غواړي د دنیا سره مسالمت آمیزه د همکارۍ تعامل ولري. زما مشوره بهرني دوستانو ته داده چې امارت مه مجبوروئ چې ستاسو مخالفینو ته مخ واړوي.

- **امریکا ادعا کوي چې په ۲۰۰۱م کې افغانستان ته د دې لپاره ولاړه چې افراطي ډلې چې د نړۍ امن یې خراباوه وځپي.** د دې لپاره چې افغانستان د افراطي ډلو ځاله نه شي او بیا امریکا مداخلې ته اړه نه شي، باید د افغانستان اوسنی تجرید نور ختم شي. تېرې ترخې تجربې تکرارول دواړو خواو ته نه دي په کار. له امارت سره دې چې اوس پر اوضاع مکمل کنترول لري او غواړي د نړیوالې ټولنې سره همکاري وکړي، د تفاهم لاره غوره او په رسمیت وپېژندل شي. امارت ته باید د حسن تفاهم او متقابل احترام پر بنیاد فرصت ورکول شي چې نړیوالې ذمه وارۍ ترسره او د سیمې او نړۍ په ثبات او ازدهار کې خپل مثبت کردار اداء کړي.

ډېره منته.

داکتر فاروق اعظم
د پوهنې پخوانی وزیر
د مهاجرینو پخوانی وزیر
Tel. +93 703 55 00 80
Email: azamfarouq@gmail.com

# واقعیت‌ها را نادیده‌نگیرید

**احمد نوید**

در پایان نشست دو روزه‌یی که در دوحه پایتخت قطر درباره افغانستان از سوی سازمان ملل‌متحد با حضور نمایندگان کشورها و نهادهای بین‌المللی، برگزار شده بود، انتونیو گوترش، سرمنشی عمومی سازمان ملل در کنفرانس خبری، گفت که این اجلاس درباره ایجاد یک رویکرد مشترک بین‌المللی برای تعامل با امارت اسلامی افغانستان بود، وی همچنان از برگزاری و برداشتن گام‌های دیگر نیز پیرامون اوضاع سیاسی و اقتصادی افغانستان خبر داد.

هر چند برگزاری نشست‌ها پیرامون اوضاع سیاسی و اقتصادی افغانستان، اهمیت این کشور را بازگو می‌کند، اما مشکل اساسی، اینست که چرا طرف اصلی قضیه که امارت اسلامی است و حاکمیت سراسری افغانستان را نیز دارا می‌باشد در نشست‌ها نماینده‌اش غایب می‌باشد که این مسأله سبب رنجش مردم افغانستان گردیده و فضای یأس و نا امیدی را مستولی ساخته است.

گر چه نشست دوحه اولین و آخرین نشست روی اوضاع سیاسی و اقتصادی افغانستان نیست، بلکه به گفته سرمنشی عمومی سازمان ملل نشست‌های دیگری نیز در این راستا در دوحه برگزار خواهد شد، مگر جهان به ویژه سازمان ملل، بداند که هیچ نشستی در عدم حضور نمایندَگان امارت اسلامی، نتایج ملموسی در قبال نخواهد داشت و این حق مسلم امارت اسلامی است که باید در همچو نشست‌ها حضور یابد تا مشکلات و دستاوردهای خودرا مستند در حضور نمایندگان کشورها و نهادهای بین‌المللی مطرح کند. به گونه مثال برخی از کشورها با نا دیده گرفتن واقعیت‌های عینی جامعه افغانستان از تلاش‌های پیهم امارت اسلامی در مبارزه با مواد مخدر و گروه‌های تروریستی، چشم پوشی کرده، برعکس از افزایش موادمخدر و افزایش گروه‌های تروریستی در افغانستان، خبر داده‌اند، در حالی‌که در نزدیک به دو سال، امارت اسلامی در راستای محو و کاهش موادمخدر و استعمال آن در افغانستان دستاوردهای قابل ملاحظه‌یی دارد که نمی‌شود از پهلوی آن سطحی گذشت، پیش از حاکم شدن امارت اسلامی مردم افغانستان شاهد استند که پل‌ها، تپه‌ها و پارک‌های شهر ها به خصوص شهر کابل مملو از جوانان آغشته به موادمخدر بودند که الحمدلله امروز شاهد استیم که این جوانان از تمام ساحات جمع‌آوری و به درمانگاه‌ها برای تداوی فرستاده شده‌اند و در راستای مبارزه با گروه‌های تروریستی نیز به صراحت گفته می‌توانیم که جزء‌ترین آدرسی از گروه‌های تروریستی در خاک افغانستان وجود ندارد و امنیت سراسر تأمین و شهروندان کشور نیز در یک فضای عاری از خشونت به زندگی خود ادامه می‌دهند که با تأسف اشاره نمودن به همچو مسایل غیر واقعی، جفای بزرگی در حق مردم و نظام اسلامی است.


بناءً هر گونه افترأ و بهتان در این رابطه جز اینکه به مشکلات بی‌افزاید، دیگر کارگر نخواهد بود.

بنابرین مردم افغانستان از سازمان ملل، انتظار دارند تا با درک واقعیت‌های موجود در افغانستان، به جای انزوا، تحمیل فشارهای مضاعف، وضع تحریم‌ها و... از راه دیپلوماتیک به حل این معضلات بپردازند. علیرغم این هم کم مهری ها، سازمان ملل به خاطر موفقیت‌اش در نشست دوحه، مکلف است که از نمایندگان امارت اسلامی افغانستان نیز در دیگر نشست‌ها دعوت کند که در آن صورت نمایندگان امارت اسلامی باید با کسب تجارت تاریخی، این بار با تدبیر، تعقل، خردمندی و هوشیاری از دستاوردهای مردم افغانستان در نشست دوحه، دفاع و حراست نمایند و با سخنان فریبنده و اغوا کننده کشورهای مغرض در قضایای افغانستان، خون‌های ریخته شده به خاطر آزادی و استقلال کشور را نیز فراموش نکنند.




# د قرآن او تکنالوژۍ له نظره په جرمي پېښو کې د درواغو مالومول

**پوهنیار محمد خالد همت**



په هره ټولنه کې ځینې وګړي قوانین او مقررات نه رعایتوي او جرم په بېلا بېلو طریقو تر سره کوي. په یوازې توګه د جنایي پولیسو لخوا د پېښې ځای کتنې څخه ګټه اخیستل د شکمن په اړه مادي مدارک را ټولول کافي نه دي بلکې د پېښې په اړه مالومات ورکوونکو اړین کار دی.د څېړنیزو کړنو څخه یو هم د استنطاق پروسه ده استنطاق یو اړین او پراخه څېړنیز کشفي فعالیت دی چې له لومړنیو څېړنو څخه پیل، تر قضایي ارزونو او حکم پورې د جرم ثبیتول ټول د استنطاق په ذریعه مخ ته بېول کېږي او مستنطق خپل ټول کوښښ د حقیقتونو د مالومولو لپاره مصرفوي تر څو رښتیا له درواغو جلا کړي. د مقصر او غیر مقصر توپیر په کې وشي، خو باید یادونه وکړو چې مستنطق د رښتینو موخو په نسبت له دروغو سره ډېر مخ کېږي ځکه هغه څوک چې د شک لاندې راځي هغه ډېر په احتیاط سره تصمیم نیسي چې په کومو الفاظو سره د مستنطق پوښتنو ته ځواب ووایي. د یادونې وړ ده چې هر انسان د درواغو او رښتیا دوې غریزې لري، چې رښتیا اصلي غریزه او دروغ ویل د انسان د خود خواهۍ او منفعت د لاسته راوړلو غریزه ده، ځینې کسان کېدای شي د ښه نیت، خطا، تېروتنې، ځینو ناروغیو او یا نورو بېلا بېلو لاملونو له امله دروغ ویلو ته مخه وکړي، په هر صورت درواغ د تېروتنو او خطا پر بنسټ وي او یا هم د نورو لاملونو پر بنسټ خو د استنطاق د اصلي لور د بدلولو سبب کېږي چې باید مستنطق ورته د شریعت او د هېواد نافذو قوانینو په پام کې نیولو سره استنطاق په سمه مسلکي توګه له تورن کس څخه تر سره شي.

په دغه مقاله کې له شکمنو کسانو د تحقیق پر مهال د قرآن عظیم الشان حکم او د نافذه قوانینو په مراعاتولو سره د استنطاق پروسه تر بحث لاندې نیسو.

**لومړی:** یایها الذین آمنو ان جاءکم فاسق بنبا فتبینوآ ان تصیبوا قوما بجهالة فتصبیحوا علی ما فعلتم ندمین د الحجرات َسورت ٦ متبرکه آیت.

ژباړه: ای هغو کسانو چې تاسو ایمان راوړی!، که چېرې راتګ وکړ تاسو لره فاسق او بد کار په یوه خبره سره، نو تاسو ښه تحقیق په کې وکړئ! له جهته د وېرې د دې چې وبه رسوئ تاسو یوه قوم لره ضرر او تاوان په ناپوهۍ سره، نو پس وبه ګرځئ تاسو په هغه څه سره چې مو عمل کړی دی، خفه او پښېمانه. د پورتنې متبرکه آیت څخه مطلب دادی کله چې ټولې شخړې او جګړې، بغض او عداوت انسان ته د درواغو له لارې پېښېږي، نو له دې خاطره الله تعالی جل جلاله خپلو بندګانو ته ارشاد فرمایلي که چېرې تاسو ته کوم بد کاره انسان په کومه قضیه کې خبر درکوی!، تاسو په هغې که ډېر فکر وکړۍ، حق او باطل، رښتیا او دروغ یې ښه ځان ته ثابت کړۍ، وروسته له هغې څخه په حل د موضوعاتو باندې اقدام وکړۍ لپاره د دې چې په احساساتو او تنګ نظرۍ سره موکومه خرابي او ضرر رسولی وی، بیا یې جبیره مشکله او پښېماني یې هم څه په درد نخوري چې په دې صورت کې به ظلم بر قراره او عدالت نړېدلی وي، حال دا چې انسان باید عدالت بر قرار کړي او د ظلم رېښې له بېخه وباسي.

**دوهم:** دا چې د جرم کشف د پولیسو لخوا تر سره کېږي. استنطاق د جزایي اجرااتو قانون څلورمې مادې په ۴ فقره کې تحقیق داسې تعریفوي.

**د جرم تحقیق:** د قانون د حکمونو په حدودو کې د څارنوال په واسطه، د راټولو شویو دلایلو پر بنسټ له تورنه د استنطاق او استجواب، د شهود او ناظرینو د بیانونو او اظهارات د اورېدلو، د جرم د پېښېدو یا نه پېښېدو د تثبیت په موخه د راټولو شویو دلایلو د ارزونې، د مرتکب د پېژندلو او تورن ته د تور د انتسابولو له لارې د جرمي واقعې هر اړخیزه څېړنه ده. همدا راز د یادې مادې په ۱۲ فقرې له مخې استنطاق په لاندې ډول تعریفوو.

**د استنطاق تعریف:** د قانون حکمونو په حدودو کې، د جرم د ارتکاب، د عمل د ډول او انګېزې په اړه له مظنونه د حقایقو د بیانولو غوښتنه ده. دروغ په عرفي مانا په ټولو ژبو او ملتونو کې پېژندل شوي موضوع ده او تعریف ته ضرورت نه لري او په عام ډول هر هغه څه چې رښتیا نه دي، نو دروغ دي یا دروغ د عقلي تلاش او هڅې پر مټ د یوې خیالي او بې بنیاده موضوع ښودل دي. مستنطق باید د استنطاق په بهیر کې د درواغو احتمال بې اهمیته ونه ګڼي او د درواغو د کشف له میتودونو د استفادې پر مټ د دروغو شتون کشف کړي چې د درواغو د کشف لپاره په استنطاق کې دوه مېتودونه شتون لري.

۱-د استنطاق پخوانی او سنتي مېتود.

۲-د استنطاق معاصر، فني او علمي مېتود،چې هر یو یې په جلا جلا ډول سره څېړو:

**د استنطاق پخوانی او سنتي مېتود:**

په پخوانیو ټولنو کې هم د دروغو د کشف لپاره د ځینو تګلارو شتون درلود چې دروغ به یې پرې مالومول لکه چینایانو به تر پوښتنو لاندې کس ته د وریجو یوه اندازه ورکوله چې په خوله کې یې وژویې او وروسته به یې ترې غوښتنه کوله چې وریجې له خولې راوباسي که په وریجو کې په د وچوالي اندازه ډېره وه ، نو دا به د دروغو لپاره یوه ظاهري قرینه ګڼل کېده ، دوی د ځینو نورو نښو لکه د غوږنو د رنګ تغییر، د بدن خولو، د حرکاتو غیر منظم کېدل، د موضوعاتو د اضافي توضیح او داسې نورو نښو په واسطه دروغ مالومول چې دغه نښې اوس هم تر ډېره د یوې قرینې په توګه ګڼل کېږي. په دې مطلب کې د استنطاق علمي، فني او تخنیکي معاصرو وسایلو سره سم په تکتیکي ډول یادونه کوو.

**د استنطاق معاصر، فني او علمي مېتودونه په لاندې ډول سره پېژندل کېږي:**

الف: انځوریز ټېستونه: په دې ټېستونو کې شخص ته ځینې انځورونه ښودل کېږي او ترېنه غوښتنه کېږي چې د انځورونو په اړه توضیحات ورکړي او د هر عکس لپاره یوه کیسه جوړه کړي او یا ورته جالب او غیر جالب انځورونه ورښودل کېږي او ترې غوښتل کېږي چې د استنطاق لاندې شخص د وینا او انځورونو تر منځ ورته والی شته او که نه ؟

**ب: رواني مېتودونه:** په دې مېتود کې د استنطاق لاندې شخص د خبرو له نه تسلسل څخه د شخص دروغ تر لاسه کېږي.

**ج: نارکو انالیز:** نارکوانالیز د رواڼپوهنې یو روغتیایي تګلاره ده چې د کیمیاوي موادو او داروګانو په مرسته بې هوشي یا نیمه بې هوشي حالت ته ورل کېږي او د تحقیق لاندې نیول کېږي تر څو حقایق ترېنه په لاس راشي ، همدا رنګه د ځینو سیرومونو سره هم کولای شو چې د تورنو د درواغو مخنیوی وکړو او یا د خوب راوړونکو داروګانو څخه.

**د: پولیګراف:** پولی ګراف هغه آله ده چې د وینې د فشار ، تنفسي تغییرات او د پوست الکتریکي مقاومت او د هغو عکس العملونو د ثبت دنده پر غاړه لري چې د درواغو په نښو ښکارېږي ، دا آله د درواغ سنجوونکې آلې په نوم شهرت لري او د لاندې برخو څخه جوړه شوې ده.

**ه:کار ډیوګراف**(د زړه ضربان د ثبت آله) د زړه ضربان ، نبض او د وینې فشار د ثبت لپاره کارول کېږي.

**و: پینوګراف:** د تنفس د حالت د ثبت لپاره کارول کېږي دا آله د اشخاصو تنفسي حالت ثبتوي او کله چې یو شخص کوم تشویش او اضطراب و نه لري ، نو تنفس په عادي ډول جریان لري چې یو شخص دروغ و وایي نو د هغه تنفس کې بې نظمي راځي چې دغه حالت په دقیق ډول د پینو ګراف په واسطه ثبتېږي.

**ز:ګلوانومټر:** د پولي ګراف دغه برخه د بدن د پوست د خولو د غدواتو فعالیت ثبتوي او د خولو د ډېروالي اندازه کوي ، کاري سیستم یې دادی چې ډېر خفیف برق د شخص بدن ته ور پرېښودل کېږي او د شخص لاسونه د اسید محلول ته کوزوي او وروسته یې په الکترودونو باندې ږدي چې په دې ډول رواني تاثیراتو لاندې د خولو د غدواتو په مقاومت کې بدلون راځي. دیادونې وړ ده چې نن ورځ پولي ګراف په ټوله نړۍ کې د کشفي او عدلي تعقیب د ارګانونو له لوري استعمالېږي، خو دا چې آیا دا آله سل په سلو کې مثبته نتیجه ورکوي او که نه؟ د علماوو تر منځ شکونه او تردیدونه پیدا کړي ، ځکه چې عادتي مجرمین دومره په درواغو عادت شوي،چې پولیګراف د دغو مجرمینو د دروغو تشخیص نه شي کولی او دومره طبیعي دروغ وایي چې هېڅ ډول عکس العمل یې په بدن کې نه ظاهرېږي. خو دا چې د درواغو څخه الزام د یو دلیل په حیث کار اخیستل کېدای شي او که نه؟ باید یادونه وکړو چې تر اوسه داسې ضوابط نه شته چې وښیي فلاني چې دروغ ویلي مقصر دی او فلانی نه دی، مګر بیا هم په اوس وختونو کې درواغ د الزام دلیل ګڼل کېږي، خو باید هېر نه کړو چې په یو بې ګناه شخص د اتهام تړل، شخص په خپله په اضطراب کې واقع کوي او د هغه تنفسي سیستم د زړه ضربان او نور حرکات خپل عادي حالت له لاسه ورکوي.

**پایله:**

نو ځکه په پولي ګراف باندې دومره باور هم نه دی په کار ځکه شریف انسانان چې تر تور (اتهام) لاندې راشي او یا د پولیسو له لوري ونیول شي نو حتماً مضطرب کېږي نو دا به معقوله نه وي چې په داسې وختونو کې د پولیګراف په آله باندې حساب وشي . جنایي پولیس د پورتنیو مواردو په پام کې نیولوسره د څېړنو او کړنو پر مهال تر ډېره حده حقایق د قوانینو پر بنسټ باید تر لاسه او د عدالت د ټینګولو لپاره خپل ټول مسلکي او کاري وړتیا په کار واچوي .

اخیستن ځایونه:

القرآن الکریم و ترجمه معانیه الی لغة البشتو

نظیمی، حفیظ الله، ۱۳۹۳ جرم پېژندنه.

د افغانستان جزایي اجرااتو قانون ۱۳۹۳ .

## غزل

**حضرت عطار (رح)**

جانا حدیث حسنت در داستان نگنجد
رمزی ز راز عشقت در صد زبان نگنجد
جولانگه جلالت در کوی دل نباشد
جلوه گه جمالت در چشم و جان نگنجد
سودای زلف و خالت در هر خیال ناید
اندیشهٔ وصالت جز در گمان نگنجد
در دل چو عشقت آمد سودای جان نماند
در جان چو مهرت افتد عشق روان نگنجد
پیغام خستگانت در کوی تو که آرد
کانجا ز عاشقانت باد وزان نگنجد
دل کز تو بوی یابد در گلستان نپوید
جان کز تو رنگ گیرد خود در جهان نگنجد
آن دم که عاشقان را نزد تو بار باشد
مسکین کسی که آنجا در آستان نگنجد
بخشای بر غریبی کز عشق می‌نمیرد
وانگه در آشیانت خود یک زمان نگنجد
جان داد دل که روزی در کوت جای یابد
نشناخت او که آخر جای چنان نگنجد
آن دم که با خیالت دل را ز عشق گوید
عطار اگر شود جان اندر میان نگنجد

## غزل

**انس حقاني**

د عمرونـو باور وباسي له منځه
د تنديو ترمنځ تېره مه شـه ګونځه
بينـا عقل به په خپله کينه ړوند کړي
د عقدو قيدي! ازاد شـه، مه مې ښکنځه!
د وطـن د ليلا څښې ګډې وډې
د مجنـون پنجه دې خدای کړي ورته ږمنځه
مينـه څه ده؟ د فرهاد د لاس تناکه
دنيا څه ده؟ د قارون د لاسـو ښنځه
چې د څانګو موسـيقۍ ته يې ويده شم
د دې ښـار ونو کې نشته د غره لمنځه
مبتـلا چې په دې رنځ شي صحت ياب شي
مه شـه روغ انسه څوک د عشق له رنځه

## که ژوندون غواړې په لستوڼي کې خنجر وساته!

**درويش دُراني**

د لمر وجود زغملی نه شي د لمر نور نه مني
جانان مې خوی د پښتنو لري تربور نه مني
پر تندي باندې ستوري مه وړه غبار يوسه يار ته
د خاور قدر شايد وکړي خو غرور نه مني
که ژوندون غواړې په لستوڼي کې خنجر وساته
دنيا وجود د هېڅ کمزوري او مجبور نه مني
زه چې يې بچ کړم هر چا اچاوه احسان را باندې
زه چې يې ووژلم هېڅوک هم قصور نه مني
چې مزدوري يې تر خوله وچېدو وړاندې ورکړي
درويشه دوی تر اوسه دا حق د مزدور نه مني

# اساسات اجراآت پولیس جنایی بعد از اخذ اطلاعات جرم

**پوهیالی سمونمل محمد ناصر مقصودی / استاد دیپارتمنت کریمنالستیک وطب عدلی**

مقدمه:
پیش از اینکه به اساسات اجراآت پولیس جنایی بعد از اخذ اطلاعات جرم بپردازیم لازم است که به کریمنالیست یا پولیس جنائی روشنی بی اندازیم.

کریمنالیست پولیس جنایی عبارت از رفتار و روش یک نفر مامور پولیس جنایی است که به روی یک پلان معین، هدف معین را بصورت امید بخش تعقیب و از تجهیزات و وسایل مورد ضرورت برای دریافت عمل جزائی استفاده می کند.

بطورمثال: اگر مجرم گنهکار می باشد در همان وقت خون گرمی اش نباید از خون گرمی منحیث پولیس جنایی کار بگیری بخاطریکه فرق میان مجرم و شما چه می باشد باید خون سردی خود را حفظ نموده که محل واقعه از پیش شما دگرگون نشود؛ زیرا احضارات درست شما نزد قاضی و محاکم که باعث دست آورد و موفقیت شما می باشد.

نظر به وضاحت متون قوانین جنایی و اصولنامه‌های نافذ پولیس جنایی از جمله مامورین ضبط قضایی محسوب شده و صلاحیت بررسی محل واقعه و تکمیل استنطاق را دارا می باشد وهمچنین پولیس جنایی نظر به مکلفیت قانونی به کشف جرم در پهلوی سایر ارگانهای کشف اقدام می دارد.

**اجراآت پولیس جنایی:**
وقتی پولیس جنایی از وقوع جرم اطلاع حاصل می کند وظیفه دارد به اسرع وقت و از کوتاه ترین مسیر به محل واقعه و یا محل دریافت جرم شتافته جریان را بصورت عاجل از نظر گذشتانده و آمر با صلاحیت خود را از موضوع مطلع می نماید و بعداً نکات ذیل را بررسی می نماید.

کدام شخص اطلاع داده؟
ساعت و تاریخ اطلاع؟
چه نوع جرم واقع گردیده است؟
محل واقعه و یا محل دریافت در کجا واقع است؟
محل واقعه و یا محل دریافت در کجا واقع است؟
نزدیکترین مسیر به محل کدام است؟
اجراآت و اقدامات بعدی که جامه عمل پوشیده چیست؟

**وظایف خاصه پولیس جنایی:** اگر چه وظایف پولیس جنایی متعدد می باشد. اما ارکان عمده آن قرار ذیل است:
کشف جرم
ضبط آثار محل واقعه
استنطاق متهم
تلاشی محلات، اشخاص وعراده جات و تعقیب و جستجو.

با در نظر داشت اینکه در مورد شناخت پولیس جنایی و وظایف آن معلومات مقدماتی حاصل کردیم باید بدانیم که اجراآت پولیس جنایی در محل واقعه چگونه صورت می گیرد.

هر واقعه جنایی نظر به عمل جرمی در محل واقعه و وقت زمان شرایط مختلف از همدیگر فرق می کند، پس هر پولیس جنایی در محل واقعه که می خواهد هدف مطلوب را بدست بیاورد اساسات لازم را داشته تا بر وظایف مربوط خویش حاکمیت داشته باشد.

این اساسات عبارت اند از دانایی و یا فهم علوم مثبه، داشتن استعداد و کرکتر لازمه فوق العاده در امور محوله می باشد در اینصورت پولیس جنایی از همه اولتر از حقوق جنایی معلومات داشته و جرم را از نظر حقوق افراد مطالعه کرده و ماده قانون که مجرم را باید نظر به افعال ارتکابیه اش بدان مجازات شود به وضاحت بداند بر علاوه از نقطه نظر ارتباط با موضوع تمام اصولنامه ها، لوایح و مقررات لازمه جنایی و حقوق را مطالعه نموده و در صورت داشتن معلومات حقوقی وی می تواند بالای مجرم تاثیر زیاد داشته باشد.

دراینصورت بایست وی به علوم کریمنولوژی و حقوق جزا دسترسی کامل داشته باشد.

پولیس جنایی به مقصد پیشبرد وظایف جنایی خود در محل واقعه بخشی از دانش تخنیک جنایی را بداند که این وسایل در اثنای تحقیق و بررسی چگونه استفاده بعمل می آید البته این وسیایل شامل تخنیک اخذ نشان انگشت و پل پا وغیره در بعضی اوقات می باشد.

یعنی لازم است همیشه یک پولیس جنایی تخنیک عملی را در نظر گرفته و در اثبات اتهام بالای متهم از آن بهره لازم گیرد.

در بعضی اوقات تجارب پولیس جنایی مدد رسان کشف جرم نیز شده می تواند زیرا تجربه پولیس جنایی در محلات مختلفه مماثل در هر واقعه وی را در امر اثبات جرم مساعدت می کند لازم است پولیس جنایی درمحل واقعه حرکات غیر لازم را از خود بروز نداده وتوسط اعمال غیر لازمی خود سبب مغشوش شدن آثار جرم در محل واقعه نگردد.

پولیس جنایی موظف است علاوه به دیگر امور مربوط تمام اعمال جزایی را در محل واقعه کشف وتوضیح نماید و مکلف است بالای شخص مظنون و متهم جرم را به اثبات رسانیده وفاعل حقیقی را به کیفر اعمالش برساند.

**طرز بر خورد پولیس جنایی در محل واقعه:**
به مجرد مواصلت پولیس جنایی در محل واقعه اوامر لازم را صادر، نباید هیچ چیز را نادیده گرفته و دقیقاً اجراآت نماید وهم رئیس تدقیق هیئت جنایی متوجه سهو و خطای اعضای خود بوده، اجراآت و اقدامات شان را مواظبت کند اما این بدان معنی نیست که همیشه مداخله بی لزوم نماید.

صرف جریان کار اعضای خود را متوجه می باشد، که اشتباه نکنند ویا کدام چیزی را فراموش نکنند. اعتماد عمل مثبت تلقی می گردد مگر باز هم در پهلوی اعتماد به زیر دستان کنترول از عملکرد آنها موثریت اجراآت را دو چندان می سازد. پولیس جنایی بابیست هر چیز را به چشم سر مشاهده کند. پولیس جنایی درمحل واقعه روی یک پلان منظم با اعصاب آرام به کار آغاز نماید لباس از قبیل کلاه، بالاپوش، عینک وغیره که مانع کار می شود قبل از شروع بکار موقتاً دور ساخته شوند. سگرت کشیدن در محل واقعه کار خوب نبوده حتی الامکان از آن خود داری گردد. در محل واقعه بهتر است ذریعه دستکش مخصوص پلاستیکی با تفکر ودقت زیاد بررسی صورت پذیرد.

**نتیجه گیری:**
از تحقیق فوق به این نتیجه دست می یابیم که اساسات اجراآت پولیس جنایی بعد از اخذ اطلاعات در محل واقعه جرم از اهمیت به سزای برخوردار می باشد که مجرم را از طریق مدارک اثباتیه مادی به شیوه های علمی ثابت و به پنجه قانون می سپارد.

**منابع:**
پوهنیار مل پاسوال عبدالمنان همدل ۱۳۹۴
پولیس علمی، کشف علمی جرایم، تالیف هاری سودرمن وجان اوکانل ترجمه یحی افتخار زاده انتشارات زوار سال ۱۳۷۷ ه- ش.
لکچرها درسی اکادمی پولیس افغانستان در کورسهای قصیرالمدت جنایی زمستان ۱۳۶۰ه-ش
پوهیالی سمونمل ذبیح الله ناظمی استاد دیپارتمنت علوم جنائی اکادمی پولیس سال ۱۳۸۷

# یوه مهمه معاملاتي پوښتنه او ځواب يې!

**مجيب الرحمن عمر**



که څوک له کوم دوکانداره سودا په قرض واخلي او بيا هغه کرنسي خپل قيمت او ارزښت له لاسه ورکړي او ريټ يې راوغورځېږي، لکه نن سبا کلداره، او قرض اخيستونکی ورته کلداري ورکوي، او کلداره دوکاندار ته په لوی تاوان تماميږي نو څه به کوي؟

يا يو تن بل چا ته سودا نه ده ورکړې بلکې روپۍ يې قرض ورکړې او د دغو روپيو قيمت راوغورځېږي، نو څه به کوي؟

يقيناً چې دا ډېره لويه ستونزه ده، په دې اړه ځينې علماء وايي : هماغه کرنسي به ورکوي که څه هم دوکاندار ته په کې تاوان وي، خو ځينې نور علماء بيا وايي ( او دا قول غوره دی ) چې که دا فرق له ثلث يعنې دريمې برخې څخه کم و نو هماغه کرنسي به ورکوي کومه چې يې ورته قرض ده.. ځکه دا تاوان قليل ( لږ) بلل کېږي.

او که دريمې برخې ته رسېدو نو بيا به يې ترمنځ صلحه کېږي ټول تاوان به په دوکاندار نه راولي، ځکه دا تاوان کثير ( ډېر) بلل کېږي، يو څه تاوان به قرض اخيستونکی هم برداشت کوي، که قرض اخيستونکي صلحه نه منله نو بيا دې دوکاندار قضا ته خبره راجع کړي.

والله اعلم.	له فتاو ژباړه

## موسسات در بخش پروژه‌های...

فعالیت نماید. دفتر مطبوعاتی والی کابل دیروز با نشر خبر گفت، که شیخ محمد قاسم خالد والی کابل با رئیس و نمایندگان موسسه دی اچ اس ای، دیدار نمود. در این دیدار مسوولان موسسه مذکور پیرامون فعالیت‌های خویش معلومات ارایه نموده و گفتند: موسسه دی اچ اس ای در زمینه‌های مطبوعاتی، خدمات بشری، آموزش و پرورش و بازسازی روستاها به مردم کمک می‌کند.

از سوی دیگر والی کابل گفت: موسسات کمک رسان باید در پروژه‌های اساسی برای شهروندان و مدیریت آب فعالیت کنند.

شیخ محمد قاسم خالد والی کابل از خدمات این نهاد در زمینه‌های مختلف قدردانی نمود و به حل مشکلات موجود و رسیدگی به پیشنهادهای آنان در زمینه های مربوطه اطمینان داد.

## آغاز روند ثبت‌نام برنامه ...

خود به گونه‌یی آنلاین، دریافت کرده به مرجعه مربوطه تسلیم نمایند. خبرنامه می‌افزاید: یک داوطلب بخش ملکی می‌تواند عین رشته را در یک الی سه شفاخانه مرکز و ولایت‌ها به جز شفاخانه‌های نظامی انتخاب کند، داکتران نظامی نیز می‌توانند صرف در شفاخانه‌های نظامی بست خویش را انتخاب کنند. گفته شده است که در این امتحان صرف داکتران مرد پس از تکمیل کردن شرایط آن، می‌توانند اشتراک کنند.

## کونړ کې ۱۸۹ کورنۍ له پاکو اوبو ...

رییس شمس الرحمن سېلاب وویل، چې دغه شبکه د وټه پور ولسوالۍ په ملایانو غونډۍ کې د لمریزې برېښنا سېستم په لرلو سربېره، د ۳۰ مترمکعب زېرمې، ۸۱ نل لیکو او ۴ زره ۲۸۳ مترو په اوږدوالي جوړه او نن ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

سېلاب زیاته کړه، چې د دغه شبکې په جوړېدو سره د یادې سیمې ۱۸۹ کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې شوې دي.

## نشستی در مورد عملی‌سازی پروژه‌ی ...

شرکت ۷۷ ترکی، جهت تطبیق قرارداد پروژهٔ فاز دوم بند کجکی بحث نموده و متعهد به همکاری مشترک روی تطبیق این قرار داد شدند.

خبرنامه می‌افزاید: در این نشست علاوه بر مسوولان وزارت انرژی و آب، نماینده‌گان وزارت احیا و انکشاف دهات، وزارت اقتصاد، وزارت فواید عامه و ریاست تدارکات ملی نیز اشتراک داشتند.

پیش از این، بوراک اونسال، در دیدار با ملا عبدالقاهر ادریس، معین انرژی و آب روی سرمایه‌گذاری در بخش انرژی و گسترش همکاری‌های بیشتر در زمینه تولید انرژی بحث کرده بود.

## کندز کې د برېښنایي پېژندپاڼو...

اوسېدونکي د دغه مرکز په فعالېدو خوښ دي او دې برخه کې د احصائیې او معلوماتو ریاست د هڅو ستاینه کوي.

هېره دې نه وي، چې د یاد مرکز په فعالېدو سره کندز کې د برېښنایي پېژندپاڼو د وېش د مرکزونو شمېر دریو ته ورسېد.

## سرپل کې د یوه سړک د جوړولو چارې...

چې په دغه ولایت کې د ناري بند - کوهستانات لاره له ډېرو مودو څخه کنډو کپله شوې وه، خو د خلکو په غوښتنه او د دغه ولایت د مقام له لوري یاد سړک د یو کیلو متر په اوږدوالي د هوارولو او جغل اچونې چارې پیل شوې دي.

د یادونې وړ ده چې د یاد سړک په جوړېد د ۲ ولسوالیو او شاوخوا ۳۰ کلیو ستونزې تر ډېره بریده لرې کېږي.

## لوګر کې ۷۰ زره څاروي ...

د دویم کمپاین په لړ کې د شاوخوا دوه میاشتو موده کې ۷۰ زره څاروي واکسین کېږي. د هاشمي په وینا، پر دغو واکسینونو ۳۵۰ زره امریکایي ډالر لګښت راغي، چې د خوړو نړیوال سازمان لخوا ورکول کېږي. دا په داسې حال کې ده، چې تر دې وړاندې هم په لوګر کې سل زره څارویو ته دغه ډول واکسین ورکړل شوی دی.

## ملګري ملتونه باید د افغانستان په...

د خپلو پرېکړو او پلانونو په برخه کې خپلواک وي. په کابل کې د ایران سفارت پر تو‌ېترپاڼه لیکلي چې کاظمي په دې لیدنه کې ویلي، د افغانستان مسئله یوازې د ملګرو ملتونو او د سیمې هېوادونو په ملاتړ حل کېدای شي.

## ټول عواید به پراختیایي او رغنیزو پروژو...

چې د هېواد د کانونو له درکه تر لاسه کېدونکې پیسې د هېواد د ابادۍ او بیارغونې په برخه کې لګول کېږي. نوموړي ویلي، ټول هغه خنډونه به له مخې لرې کوي کوم چې په هېواد کې د کانونو د مسلکي او فني استخراج مخه نیسي.

## انهدام صدها جریب مزارع...

امور داخله در ۹ ولایت کشور بیش از ۳۶۰ جریب زمین را از وجود کشت کوکنار پاکسازی نمودند.

از این میان، ۲۳۵ جریب زمین طی دو روز گذشته در ولسوالی دولت شاه ولایت لغمان،۹۳ جریب زمین در ولسوالی های اچین، کوت و هسکه مینه ولایت ننگرهار، ۲۵ جریب زمین در ولایت سرپل، ٦ جریب زمین در ولایت کنر و ۲۲۹٦ مترمربع زمین در ولایت خوست از کشت کوکنار پاکسازی گردید.

همچنان، پولیس مبارزه با مواد مخدر طی چندین عملیات جداگانه مزارع کشت شده کوکنار را در ولایت‌های دایکندی، ارزگان، بادغیس و کاپیسا تخریب و از بین بردند.

## جوزجان کې د ۱۱۰ ښوونځیو ...

د لیدنې پرمهال وویل، چې د یونیسف موسسې په مالي ملاتړ د ۳۷۰ زره امریکایي ډالرو په لګښت د ۱۱۰ ښوونځیو ودانۍ بیا رغول کېږي، چې د یادې پروژې په بشپړېدو سره به د ودانۍ د نشتوالي ستونزه ۷۰ سلنه حل شي.

مولوي جواد زیاته کړه، چې تېر شل کلنو جګړو په دغه ولایت کې د ښوونځیو ډېرې ودانۍ ویجاړې کړې، چې اوسمهال یې د بیارغولو لپاره هڅې پیل شوې دي.

نوموړي د یادې پروژې چارې د درزاب ولسوالۍ په بي بي مریم سیمه کې د پټۍ په پرېکولو سره پیل کړې.

## وزارت صحت عامه مراکز درمانی جدیداً...

داکتر عبدالحکیم «رسولی»، رئیس شفاخانه مرکزی نیمروز، با تشریح چگونگی فعالیت شان به معین وزارت صحت عامه، برای رفع کمبودی‌ها، خواهان همکاری وزارت صحت عامه شد.

# ننګرهار د سختو اورښتونو له امله زیانمن شوی

په ننګرهار کې پرونیو سختو اورښتونو خلکو ته ګڼ مالي او ځاني زیانونه اړولي دي. د ننګرهار د ځایي چارواکو په وینا د بټي کوټ ولسوالۍ د شبدانۍ په سیمه کې د یوه کور چت، چې د باران له امله ویجاړ شوی، د یوې مېرمنې د ټپي کېدو او درې څارویو د له منځه تللو سربېره، د کور خاوند هم مړ شوی دی. د ننګرهار د اطلاعاتو او کلتور ریاست د معلوماتو له مخې د دغه ولایت په بټي کوټ، روداتو، سرخرود، کوز کنړ، دره نور، کوټ، خوګیاڼو او یو شمېر نورو سیمو کې اورښتونو د کروندګرو او باغ لرونکو محصولات سخت زیانمن کړي دي. د یوه بل خبر له مخې په خوست ولایت کې هم اورښتونو د دغه ولایت کروندګرو او باغ لرونکو ته ډېر مالي زیانونه اړولي دي.

## اتحاد نوې خصوصي راډیو خپرونې...

رئیس رفیع الله صمیم وویل، نن ډېر د خوشحالۍ ځای دی، چې د مطبوعاتو د نړیوالې ورځې سره جوخت په لوګر کې د یوې نوې راډیو د پرانیستې شاهدان یو، ښاغلي صمیم دغه کار د رسنیز ډګر د ټولو لارویانو، د لوګر اوسېدونکو او مسوولینو لپاره مهمه لاسته راوړنه وبلله او ډاډ یې ورکړ، چې د ملاتړ په برخه کې به یې له هېڅ راز هڅو ډډه ونه کړي.

صمیم د اتحاد راډیو له مسوولینو او کارکوونکو وغوښتل، چې د ولسونو د ستونزو د انعکاس او حقایقو په خپرولو کې دې خپل مسوولیت په ښه توګه ترسره کړي.

ورته مهال د اتحاد راډیو مسوول مدیر محمد فرهاد غفوري باختر آژانس ته وویل؛ دغه راډیو، چې په اېف.اېم ۹۱.۹ څپو کې خپلې خپرونې پیل کړې، اوسمهال اته تنه کارکوونکي لري او شاوخوا ۱۵ زره امریکایي ډالر لګښت پرې راغلی دی.

د یادونې وړ ده، چې اوسمهال په لوګر کې دوه دولتي او څلور خصوصي راډیوګانې فعالیت کوي او ترځنګ یې د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست میاشتنۍ جریده هم چاپېږي.

## شهروندان مواد ساختمانی شان را در جاده‌ها...

برخورد قانونی روبرو خواهند شد.

در اطلاعیه آمده است که گذاشتن مواد ساختمانی در سطح سرک و پیاده‌روها سبب تخریب آنها و مسدود شدن راه عامه شهروندان می‌شود.

بنابراین، شهروندانی که ساختمان یا هم خانه می‌سازند، مواد ساختمانی اش را در محوطه ملکیت خویش قرار دهند، در غیر آن تخلف شهری محسوب می‌شود.

## لوګر کې ۲۲۰ نجونو ته د زده کړو ...

د محمدي عالي دارالعلوم یوه څانګه فعاله او په کې ۱۲۰ تنو نجونو له اووم څخه ترلسم ټولګي او له دولسم ټولګي څخه نږدې ۱۰۰ تنو فارغو نجونو ته په دیارلسم ټولګي کې د شریعت په چوکاټ کې د زده کړو زمینه برابره شوه.

د یادونې وړ ده، چې محمدي عالي دارالعلوم؛ د لوګر په مرکز پل علم ښار کې فعالیت کوي او دا یې د نجونو لپاره لومړنۍ څانګه وه چې په محمدآغې ولسوالۍ کې پرانیستل شوه.

## در تعیینات از سمت پرستی و رفاقت ...

ملا محمد فاضل «مظلوم» معاون اول وزارت دفاع ملی در سیمینار سه روزه ریاست پیژنتون که به منظور ارتقای ظرفیت و تطبیق فورم‌های تشکیلاتی برگزار شده بود، اشتراک و صحبت نمود. ملا محمد فاضل مظلوم گفت: در تعیینات از سمت پرستی و رفاقت باید خودداری شود و تقرر بر اساس اهلیت، شایستگی، اخلاص و تعهد صورت گیرد. همچنان؛ مسوولان ریاست پیژنتون در مورد دیتابیس اداری معلومات مفصل ارایه نمودند که در یک و نیم سال گذشته به این سو تأسیس شده است.

## د اوبو او انرژۍ وزارت له ډنمارکۍ...

موسسې له مسوولې سره د اوبو پراختیایي پروژو د تطبیق په هکله د ګډو همکاریو هوکړه لیک لاسلیک کړ.

د اوبو او برېښنا وزارت مرستیال د یاد هوکړه لیک د لاسلیک پر مهال ویلي، چې افغانستان د اوبو د مدیریت په برخه کې د ملي او نړیوالو موسسو ګډې همکارۍ ته اړتیا لري او د دې ډول ګډو همکاریو هرکلی کوي.

## پروان کې سلګونو کورنیو ته د...

افغانیو په لګښت د څښاک اوبو ٦ شبکې جوړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. د دغو شبکو پرانیستلو پرمهال د یاد ولایت د کلیو، بیارغونې او پراختیا رئیس ملا عبدالصمد صادق وویل، چې دغه شبکې د مرکز چاریکارو په ګډون په بګرام، سیاه ګرد، شینواري، سالنګ او کوه صافي ولسوالیو کې د یونیسف موسسې په مالي ملاتړ د ۳۷ میلیونو افغانیو په لګښت جوړې شوې، چې په کې د لمریزې برېښنا سېستم، محافظوي دېوالونه، کور په کور د نل لیکې غځول او نورې اړونده چارې شاملې دي. ملا صادق زیاته کړه، چې د دغو شبکو پرمټ ۳۷٦ کورنیو، یوې مدرسې، یوه ښوونځي او څو جوماتونه ته د څښاک اوبه برابرې شوې دي.

## پکتیا کې رسنیزو سرغړونو ته د رسېدنې...

ورته مهال د پکتیا د اطلاعاتو آمر نیازالله اصیل ځاځي وویل، چې د دغې ویې ویل، چې د دغې کمېټې په فعالیت سره به د رسنیز ډګر کنټرول او څار ته هر اړخیزه رسېدنه وشي. اسلامیار زیاته کړه، چې پکتیا کې پر رسنیز ډګر د نورو ولایتونو په نسبت زیات څار او کنټرول وجود لري ټولې رسنۍ د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست سره په همغږۍ خپلې خپرونې وړاندې کوي.

کمېټې کړنې به د رسنیو خپرونو پالیسۍ، جوازونو څار او رسنیز اهداف وي.

د یادونې وړ ده، چې په دغه کمېټه کې د ولایت مقام، اطلاعاتو او کلتور ریاست، استخباراتو ریاست، امنیې قومندانۍ او امربالمعروف او نهی عن المنکر ریاستونو استازي غړیتوب لري.

## ۲۶ کودک مبتلا به سوراخ قلب...

تداوی و عملیات، به سه شفاخانه در شهر کابل معرفی شدند که هزینه‌ی تداوی آنان نیز از سوی هلال احمر افغانی پرداخت می‌شود. گفتنی است که هلال احمر افغانی، در ۹ ماه گذشته ۱۰۲۴ کودک مبتلا به بیماری سوراخ قلب را غرض تداوی به شفاخانه‌های در کابل معرفی کرده است.

## غزني کې د یو شمېر پروژو چارې...

د دغه ولایت د والي حافظ محمد امین جان عمري له لوري کېښودل شوې.

د دغه پروژو د پیل په مراسمو کې د غزني د ولاړو اوبو رئیس مولوي اسدالله منصوري وویل، چې دغه پروژې د UN موسسې په مالي ملاتړ د نږدې ۴۰۰ زره امریکایي ډالرو په لګښت د عابد رحیمي شرکت له لوري پلې کېږي. په غزني کې د عابد رحیمي شرکت مشر انجنیر قدرت الله سروري بیا وویل، چې دغه پروژې به د ۷ میاشتو په اوږدو کې بشپړې او په کې به د سیمې سلګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شي. ورته مهال د غزني والي حافظ محمد امین جان عمري وایي، چې اسلامي امارت هڅه کوي څو د هېواد وګړو ته د کار زمینه برابره او ټولګټې پروژې په هغو سیمو کې پلې کړي چې په تېرو شلو کلونو کې ورته کمه توجه شوې ده. عمري زیاته کړه، چې اسلامي امارت په ټول هېواد کې امنیت نیولی او که نړۍ اسلامي امارت په رسمیت وپېژني د دغه هېواد د وګړو به اقتصادي ستونزې تر ډېره حل شي.

## وزارت اطلاعات و فرهنگ از روز ...

ایجاد و شروع به فعالیت می‌کند. در همین حال محمد نعیم سروری رییس موبی گروپ به نمایندگی از تلویزیون های خصوصی افغانستان صحبت کرده گفت: مشکلات تلویزیون ها اغلباً حل شده و فقط چند مورد از جمله مشکلات عدم دسترسی به اطلاعات، مشکلات مالی و برخی از چالش‌ها سانسور هنوز هم باقیست که امیدواریم امارت اسلامی در راستای رفع آن، رسانه‌ها را حمایت کند. در عین حال شفیق وردک استاد پوهنتون کابل ضمن برشمردن برخی از چالش‌های کار خبرنگاری به شماری از راه حل ها اشاره کرده گفت: مشکلات رسانه‌های افغانستان؛ مشکلات تاریخی است. در حدود یک و نیم قرن گذشته رسانه‌ها و حکومت یک تعریف مشترک از مفاهیم کار اطلاع رسانی نداشتند. باید روی مفاهیم وحدت نظر به میان آید. حکومت و رسانه‌ها همکار هم باشند؛ چی حکومت و چی رسانه‌ها هر دو باید مسئولانه عمل کنند. در همین حال اباسین ظهیر نماینده خبرگزاری پژواک که در این برنامه سخن می‌زد نیز از عدم دسترسی به اطلاعات انتقاد کرده و گفت امیدوار هستیم امارت اسلامی مسئولین را در این زمینه موظف سازند تا اطلاعات را در اختیار خبرنگاران قرار دهد. حجت الله مجددی به نمایندگی از اصناف خبرنگاران سخن گفته و بیان نمود: ما منتظر قانونی استیم که حق دسترسی، به اطلاعات را برای خبرنگاران سهل کنند. وی با اینکه از نهاد مشخص نام نبرد اما گفت برخی نهادها هنوز هم سر راه کار اطلاع رسانی قرار می‌گیرند. این در حالیست که مقامات در وزارت اطلاعات و فرهنگ تأکید می‌کنند که از رسانه‌ها با تمام توان حمایت می‌کنند. به گفته‌ی مسئولین در این وزارت اکنون ۳۷۳ رسانه در کشور فعالیت دارد که از این میان ٦ رسانه تازه به فعالیت آغاز کرده است. گفتنیست که روز جهانی آزادی مطبوعات یک رویداد سالانه است که در سوم می برگزار می‌شود، این روز توسط سازمان آموزشی علمی و فرهنگی سازمان ملل متحد (یونسکو) نام گذاری شده است.

**اسفندیار**

## بنسټیزې پروژې مو بسیاینه ...

ورته مخکې او د استخراج برخه کې پانګونه وکړي، د هېواد اقتصاد به خورا لنډه موده کې ډېر لوړ او لکونو هېوادوالو ته به کاري زمینې ومومندل شي. پر دې اساس ویلی شو چې که افغانان واقعاً رښتیني خپلواکي، عزت او د نړۍ له مغرضو جهتونو خوندیتوب غواړي نو چې په هره بیه وي، پر همدغسې لویو تولیدي او بنیادي پروژو دې کارونه پیل او په دې توګه دې ځان له پردي احتیاجه وژغوري. لنډه دا چې زموږ واړه او زاړه، خواص او عوام، حکومت او رعیت باید په دې باوري شي چې دا وخت په ګرده نړۍ کې د مادي ګټو په سرخورا بې رحمه سیالي روانه او په ګټلو کې یې له هېڅ ډول ظلم، وحشت او ناروا نه مخ نه اړوي مطلب دا چې د نن له وحشي او ماده پرسته انسانانو د خلاصون یوازنۍ لاره داده چې ځواکمنې متې، پرځان بسیا اقتصاد او بشپړ دفاعي وسایل ولرو، نه دا چې د اغیارو د بشري حقونو او انساني خواخوږۍ په دروغجنو شعارونو دوکه شو.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷۶۷۸۸٤٤۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Thursday 04 May 2023 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 172

# کندهار کې د سوء شکل ماشومانو وړیا عملیات پیل شول



د کندهار په مهمند نړیوال ۲۰۰ بستریز روغتون کې د ترکیې څخه راغلي افغان جراح ډاکټر عبدالغفار غیور د پرې شونډو، پزه او تالو نښتو ناروغانو جراحي عملیاتونه پیل کړل.

د کندهار د عامې روغتیا ریاست مسؤلین وايي، چې د عامې روغتیا ریاست له لوري پرې شونډې لسګونه ماشومان لېست شوي، چې هره ورځ به د لسو ماشومانو عملیات کېږي.

د مهمند نړیوال ۲۰۰ بستریز روغتون مسؤل حاجي محمد صدیق مهمند وايي، چې دا عملیاتونه به مخکې په ایران او پاکستان کې په لوړ لګښت کېدل، خو اوسمهال د اسلامي امارت په راتګ سره په مهمند نړیوال روغتون کې د ډاکټر عبدالغفار غیور په مشرۍ د یوه ځانګړي متخصص تیم له لوري په وړیا توګه ترسره کېږي.

## هشدار شاروالی کابل:

# شهروندان مواد ساختمانی شان را در جاده‌ها و پیاده‌روها نریزند



شریعت: شاروالی کابل، به آنعده شهروندانی که در جریان کار تعمراتی مواد ساختمانی شان را در سطح جاده‌ها و پیاده‌روها می‌ریزند هشدار می‌دهد که این کار تخلف شهری محسوب می‌شود و با مرتکبین آن برخورد قانونی صورت می‌گیرد.

شاروالی کابل، روز گذشته در اطلاعیه‌یی گفت: به اطلاع آنانی که ساختمان می‌سازند، رسانیده می‌شود' دیگر مواد ساختمانی را در سطح سرک و پیاده روها نگذارند، در غیر آن با... ص۵

# لوګر کې ۲۲۰ نجونو ته د زده کړو زمینه برابره شوه



د لوګر د پوهنې ریاست لخوا په محمدآغې ولسوالۍ کې د محمدي عالي دارالعلوم د یوې ځانګې پرانیستلو سره ۲۲۰ نجونو ته د زده کړو زمینه برابره شوه.

د دغه ولایت د پوهنې ریاست مسؤلین وايي: د محمدآغې ولسوالۍ اړوند د سرخ آباد د نجونو لیسه کې ... ۵مخ

## والی کابل:

# مؤسسات در بخش پروژه‌های اساسی فعالیت نمایند



شریعت: والی کابل می‌گوید که موسسات امدادرسان باید در بخش‌های بنیادی، پروژه‌های اساسی و مدیریت آب... ص۵

# بازداشت ۱۹ تن در پیوند به فروش مواد مخدر

شریعت: وزارت امور داخله از بازداشت نوزده تن در پیوند به فروش مواد مخدر خبر می‌دهد.

این وزارت دیروز با نشر خبرنامه‌یی گفت: که پولیس مبارزه با مواد مخدر وزارت امور داخله ، ۱۹تن را در پیوند به فروش موادمخدر از ولایت‌های بلخ، هرات، تخار و بدخشان بازداشت نمودند.

از این میان ۹تن در پیوند به فروش مواد مخدر از ولایت بلخ، ۷تن از هرات، یک تن از تخار و ۲ تن دیگر در پیوند به فروش تابلیت کا از بدخشان بازداشت شدند.

همچنان پولیس مبارزه با مواد مخدردر ولایت بغلان، ۴۰ تن از معتادین را از نقاط مختلف شهر پلخمری مرکزآن ولایت جمع آوری نموده و جهت تداوی به مراکز تداوی معتادین انتقال دادند.



# آغاز روند ثبت‌نام برنامه اکمال تخصص

روند ثبت نام آزمون برنامه اکمال تخصص داکتران آغاز گردید.

وزارت صحت عامه دیروز با نشر خبرنامه‌یی گفت: داکترانی که خواهان اشتراک در امتحان اکمال تخصص هستند، قبل از تاریخ ٢٤ ثور روند ثبت‌نام شان را تکمیل نمایند.

در خبرنامه آمده است که روند ثبت نام برای کامیابان امتحان ایگزیت، به گونه‌ی آنلاین است، اما داکترانی که قبل از آغاز روند این امتحان فارغ شده بودند، فورم ثبت نام را بعد از درج مشخصات... ص۵

# کونړ کې ۱۸۹ کورنۍ له پاکو اوبو برخمنې شوې



د کونړ د کیلو، بیارغونې او پراختیا ریاست مسوولین وايي، چې د دغه ولایت په وټه پور ولسوالۍ کې DANIDA موسسې په مالي ملاتړ د څښاک اوبو یوه شبکه جوړه شوه.

د یادې شبکې د پرانیستلو پرمهال د دغه ولایت د کلیو، بیارغونې او پراختیا... ۵مخ

# هېواد کې د پنبې کرکیله زیاته شوې

د هېواد په ۱۷ ولایتونو کې د پنبې حاصلات ډېر شوي دي. د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت وايي، چې په تېر کال کې ۷۲ زره ټنه پنبه راټوله شوې او ډېری بزګران د کوکنارو پرځای پنبه کري. دغه وزارت زیاتوي چې تر ټولو ډېره پنبه په تخار، کندوز، بغلان، سمنګانو، بلخ، جوزجان، کندهار، هلمند او یو شمېر نورو ولایتو کې کرل کېږي. کروندګر وايي ځکه یې د پنبې کرلو ته مخه کړې چې ډېر عاید لري. د کرنې اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت د معلوماتو له مخې اوسمهال د هېواد په ۱۷ ولایتونو کې په ۵۴ زره هکتاره ځمکه کې پنبه کرل شوې ده.



# کندز کې د برېښنایي پېژندپاڼو د وېش مرکز پرانیستل شو

د کندز د احصائیې او معلوماتو ریاست مسوولین وايي، چې د دغه ولایت په حضرت امام صاحب ولسوالۍ کې د برېښنایي پېژندپاڼو د وېش مرکز پرانیستل شو.

د دغه مرکز د پرانیستلو پرمهال د یاد ولایت د احصائیې او معلوماتو رییس مولوي فضل الله فیاض وویل، چې د یادې ولسوالۍ د اوسېدونکو له پرله پسې غوښتنو او د پېژندپاڼو د وېش برخه کې د آسانتیاوو د رامنخته کولو په موخه یې دغه مرکز جوړ کړی، چې د یادې ولسوالۍ د اوسېدونکو سربېره ورته د دشت ارچي او کلباد ولسوالیو اوسېدونکي هم کولی شي د برېښنایي پېژندپاڼو اړوند چارې طی مراحل کړي.

په همدې حال کې د حضرت امام صاحب ولسوالۍ... ۵مخ

# نشستی در مورد عملی‌سازی پروژه‌ی فاز دوم بند کجکی برگزار شد



شریعت: نشستی به منظور تطبیق قرارداد پروژۀ فاز دوم بند کجکی میان مسوولان وزارت انرژی و آب و شرکت قراردادی ۷۷ ترکی، برگزار شد.

وزارت انرژی و آب دیروز با نشر خبرنامه‌یی گفت: در این نشست، ملا عبداللطیف منصور، سرپرست این وزارت و بوراک اونسال، نماینده‌ی ... ص۵

# اتحاد نوې خصوصي راډیو خپرونې پیل کړې

د لوګر د اطلاعاتو او کلتور ریاست مسوولین وايي، چې په دغه ولایت کې د اتحاد په نوم یوې نوې خصوصي راډیو خپرونې پیل کړې.

د یادې راډیو د خپرونو د پیل لپاره جوړ شویو مراسمو کې د اطلاعاتو او کلتور رئیس رفیع الله صمیم، د ولایت مقام سلاکار مفتي فضل الرحمن ادیب، د امنیې قومندانۍ د امنیت آمر مولوي کفایت الله خالد، د یو شمېر ادارو ویاندویانو، د سیمه ییزو رسنیو مسوولینو او خبریالانو ګډون کړی و.

د اطلاعاتو او کلتور... ۵مخ

# لوګر کې ۷۰ زره څاروي واکسینېږي



د لوګر د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست مسوولین وايي، چې په دغه ولایت کې به د پوستکي ناروغۍ (LSD) د واکسین د کمپاین په دویم پړاو کې ۷۰ زره څاروي واکسین شي.

د دغه ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رییس مولوي سید هاشمي وايي؛ د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې ادارې (FAO) په همکارۍ د لوګر په کچه د څارویو د پوستکي (Lumpy Skin Disease) ناروغۍ سره د مبارزې... ۵مخ

# سرپل کې د یو سړک د جوړولو چارې پیل شوې

د سرپل د ټولګټو چارو ریاست مسوولین وايي چې په دغه ولایت کې د ناري بند - کوهستانات د سړک هوارولو او جغل اچونې چارې پیل شوې دي.

د سرپل د ټولګټو چارو رییس مولوي اسد الله مسرور وویل،... ۵مخ

